**<u>مطبوعاتِ اعلامیه</u>**

## زموږ د ورونو پر وړاندې فشار او د هغوی نیول زموږ د لارې خنډ نه شي ګرځېدلی

د ۲۰۲۱ م کال، د فبروری په ۱۳ مه، د حزب التحریر له لوري د «**سل کاله وروسته، اې مسلمانانو خلافت بیا تأسیس کړئ!**» تر سرلیک لاندې کمپاین پیل شو. ددغه کمپاین د ملاتړ په موخه موږ هم د نړۍ د نورو ښارونو په څېر د خپلې برخې د ادا کولو په موخه د ترکیې په بېلا بېلو تاریخي ښارونو کې وېډیوګانې ثبت کړې. یوه وېډیو د افیون قره حصار ښار د عموریې په سیمه کې ثبت شوه، ترڅو مسلمانانو ته د یوې مسلمانې ښځې د مظلومیت د چیغې پر وړاندې د مسلمان خلیفه المعتصیم غبرګون ور په یاد کړي. چې په پایله کې د انقرې د پولیسو امنیتي ځواکونو زموږ د پنځو خویندو کورونه د ۲۰۲۱م کال د فبروري په ۲۳ مه محاصره او د یوې ۱۶ کلنې خور په ګډون یې یادې پنځه خویندې ونیولې. دوی د ترکیې د جمهوری ریاست د ځارنوالۍ د دفتر په غوښتنه د افیون سیمې ته د پلټنو لپاره د درېو ورځو په موخه ولېږل شوې او له هغه وروسته نن ورځ له محکمې څخه د هغوی تر نظارت لاندې په مشروط ډول بېرته پرېښودل شوې. د دې ترڅنګ په بورسه کې د فبروی په ۲۰مه د یکشنبې په ورځ درې ورونه هم نیول شوي وو، دوی هم په سوګوت بلیسیک کې د ارتغرل غازي د قبر پر وړاندې وېډویو ثبتوله. سربېره پردې د دغه کمپاین په لړ کې د استانبول امنیتي ځواکونو هم زموږ پنځه ورونه په اسکوادو کې د وېډیو ډکولو پر مهال نیولي وو.

موږ د حزب التحریر- ولایه ترکیې مطبوعاتي دفتر لومړی ټولو حکامو او وروسته هغه ټولو اړخونو ته چې په دا ډول کړنو کې ښکېل دي، خبرداری وکوو او وایو چې:

۱: حزب التحریر یو فکري او سیاسي حزب دی، چې په ۱۹۵۳م کال کې په فلسطین کې تاسیس شوی دی او د ۱۹۵۹م کال راهیسې په ترکیه کې د یوې اسلامي ډلې په توګه فعالیت کوي. فعالیت یې یوازې فکري او سیاسي بڼه لري او هېڅ ډول فزیکي او وسلوال فعالیت نه لري. د دې هرڅه سربېره زموږ غړي د تېرو ٦۰ کلونو په موده کې په بې ساري ډول تر سخت فشار، تهمتونو او ځورونو لاندې دي. دغه ګواښ، ځورونې او تهمتونو هم د برتانیا د غلام او د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو «کمالیسټ سکولرانو » په دوره کې و او هم په دې وروستیو کې د عدالت او پراختیا د ګوند د نظامي کودتا څخه وروسته د دوی په حاکمیت کې. زموږ ورونه نیول شوي، شکنجه شوي او د هغوی پر وړاندې د سختو سزاګانو حکمونو صادر شوي دي. دغه فشار، ګواښونو، سزاګانې او بې عدالتۍ زموږ د ورونو پر کړنو باندې کوم اغېز نه شي کولای او نه شي کولای زموږ د دغه ریښتني دعوت مخه ونیسي، بلکې برعکس زموږ عزم او حوصله لا پیاوړې کوي. د الله سبحانه وتعالی په مرسته دا ډول خیانتونه او

باطلې هڅې ناکامېږي او نه شي کولای د حزب التحرير دغه رېښتنی غږ «دعوت» ته زيان ورسوي، يا يې غږي ووېروي او يا دوی د الله سبحانه وتعالی د رضا له لارې څخه ليرې کړي.

۲: ستاسو خويندې چې په انقره کې له خپلو کورونو څخه نيول شوې وې، د مسلمانانو هغه خليفه المعتصم ته په اشارې کولو سره پر تاسو غږ وکړ، چې له بغداد څخه يو لوی لښکر ته د عموريه پر لور حرکت ورکړ، ترڅو هغې مسلمانې ښځې ته نجات ورکړي، چې د روميانو تر اسارت لاندې راغلې وه. دا په داسې حال کې ده چې په ټوله نړۍ کې د ښځو او ماشومانو د مرستې پر وړاندې ستاسو سترګې پټېږي، غوږونه مو کڼېږي او ژبې مو ګونګۍ کېږي. ان تر دې چې هغه مسلمانې خويندې نيسئ، چې د الله سبحانه وتعالی د رضا او د خلافت د تاسيس لپاره هڅې کوي.

۳: د خلافت غوښتنه، نه د الله سبحانه وتعالی په نزد ګناه ده او نه د هغه کسانو په نزد چې د اخرت په ورځ ايمان لري، بلکې دا يو شرعي مکلفيت او د وياړ او وقار خبره ده. موږ پر هغه څه چې ترسره کوو يې وياړو. دغه نيونې او ګواښونه نه شي کولای موږ له دغې سپېڅلې لارې او خير غوښتونکي غږ څخه ليرې کړي. موږ پوره باور لرو، چې د خلافت غوښتلو په هڅو کې بريالي کېږو او د هغه د ساتنې لپاره کار کوو.

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#خلافت_بيا_تاسيس_کړئ**

**د حزب التحرير- ولايه ترکيه مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۱۳مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۲۵مه**

**د صدور ګڼه: ۰۸/ ۱۴۴۲**